
# ټورنټو او د ټورنټو عامه کتابتون ته ښه راغلاست




د ټورنټو عامه کتابتون له تاسې سره په خپل نوي ښار کې د مېشتېدنې په برخه کې د مرستې په توګه ګڼ شمېر وړيا خدمتونه وړاندې کوي.

**مونږ ته مراجعه وکړئ او:**

- د **کتابتون کارت** وړیا تر لاسه کړئ. تاسې بس د پېژندګلوۍ دوه موارد و ته چې ستاسې نوم او په ټورنټو کې ادرس دي، اړتیا لرئ.
- **کمپیوټر** وکاروئ چې انټرنیټ سره وصل وي او د مائیکروسافټ (Microsoft) آفس (لکه ورډ/Word، ایکسل/Excel، پاورپوائنټ/PowerPoint) او نور ډیر ډیټابیسونه یا د معلوماتو زېرمې لري.
- د کتابتون په ټولو څانګو کې **وړیا وایې فایې** سره وصل شئ.
- د کتابتون یوې څانګې ته شخصاً یا په آنلاین بڼه مراجعه کولو سره **کتابونه، فلمونه او نور شیان** پور واخلئ. د کتابتون ټوکي په پښتو، فارسي او نورو ډېرو ژبو کې شتون لري.
- **د استوګنې کارمند** سره چې له تاسې سره د دندې په میندلو، د موټر چلولو جواز تر لاسه کولو او نورو چارو کې مرسته کولای شي، یو په یو ملاقات وکړئ.
- د بالغانو او ماشومانو لپاره د انګلیسي د دوېمې ژبې په توګه مواد پور واخلئ.
- په مختلفو موضوعاتو **پروګرامونه** کې په حضوري یا انلاین بڼه ګډون وکړئ چې په هغې کې انګلېسي زده کول، د یوې کوچنۍ دندې یا کاروبار پیلول، کوچنیانو ته د کیسو بیانولو وختونه، او د دندې لټه شامل دي.
- د کتابتون کارمندانو سره په **100 څانګو** کې په اړیکه کې شئ. مونږ ستاسې پوښتنو ته ښه راغلاست وایو او تاسې سره مرستې کولو ته لېواله یو. مونږ په ډیرو ژبو کې ژباړونکو ته لاسرسی لرو. د کتابتون د ټولو موقعیتونو د لست لپاره، **tpl.ca/branches** ته مراجعه وکړئ یا د ځواب ویلو شمېرې، (Answerline) 416-397-5981، سره اړیکه ونیسئ او پوښتنه وکړئ چې کوم کتابتون تاسې سره نژدې موقعیت لري.

# د ټورنټو عامه کتابتون کې زمونږ ټولو په استازیتوب، مونږ ژر تر ژره تاسې سره ملاقات ته سترګې په لار یو.

Pashto 2022